UNAMA
SRSG Briefing
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

**د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته په افغانستان کې د عمومي منشي د ځانګړي استازي ښاغلي تدامیچي یاماموتو وینا**

**(څنګه چې وړاندې شوې)**

**نیویارک، د ۲۰۱۹ کال د ډسمبر ۱۶**

* * *

آغلي رییسې ډېره زیاته مننه،

کله چې ما په وروستی ځل دې شورا ته وینا وکړه ، د افغانستان خلکو له ۲۰۰۱ راهیسې د هیواد په څلورمو ولسمشریزو ټاکنو کې د ګډون لپاره چمتووالی نیو. دا ټاکنې د پلان سره سم د سپټمبر په ۲۸ نېټه تر سره شوې. په ټاکنو کې د برخې اخیستنې کچه کمرنګه او نسبتا کمه وه، په یو شمیر سیمو کې د امنیتي ګواښونو او د رایه ورکونکو د لږ شمیر له امله متاثره شوې. تمه کیده چې ابتدایي پایلې د اکتوبر په ۱۹ نیټه اعلان شي، خو لا هم تر اوسه نه دي اعلان شوي.

د ټاکنو د ځنډ اصلي لامل د دې داډ یقیني کول دي چې د ټاکنو پروسه د امکان تر حده شفافه او د اعتبار وړ وي، حتی که چیرې دا چارې زیات وخت هم ونیسي. له تخنیکي پلوه ، د سږ کال د ولسمشرۍ ټاکنې په افغانستان کې د تیرو ټاکنو په پرتله ډیرې ښې او ډیرې شفافې ټاکنې وي. د رایې د تشخیص د بایومټریکو آلو کارول تر ډیره د درغلیو د کشف او مخنیوي په برخه کې موثر تمام شوي ، او د پروسې په اوږدو کې د چیک یو شمیر نویو میکانیزمونو د ټاکنیز مدیریت ادارو ته دا وړتیا ور په برخه کړه چې متعددې او د درغلیو ډکې رایې کشف او د هغو مخنیوی وکړي. د تیرو ټاکنو په پرتله نوماندانو او نورو سیاسي شریکانو معلوماتو ته ډیر لاسرسی درلود.

د ټاکنو له ورځې وروسته ، د ټاکنو خپلواک کمیسیون، انتخاباتي توکي بیرته ترلاسه کړل، او د کاندیدانو د استازو او د ناظرینو په شتون کې یې د پایلو فورمې جمع کړې. د پایلو فورمې او ډیټا کوم چې په بریښنایي بڼه لیږدول شوې، پرتله شوې او د تفتیش د تصدیقولو د ملاتړ په نوی جوړ شوي ډیجیټلي سیستم کې پروسس شوې. د بیایومیټریکو اطلاعاتو بیاتکرار چې متعدد رایه ورکونکي وپېژني او د جمع شویو پایلو او د تفتیش د تصدیقولو د ملاتړ د نوی جوړ شوي ډیجیټلي سیستم تر منځ د اطلاعاتو پرتله کول پای ته رسیدلي. د دوی لومړنی هدف د احتمالي درغلیو کشفول و او د شمیرنې له لړۍ څخه د درغلیو ډکو رایو لرې کول و. د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون هم د ټاکنو په ورځې پورې د اړوندو د ۴۰۰۰ څخه زیاتو شکایتونه په اړه پریکړه کړې.

په هرصورت ، د تاکنو دا پروسه پرته له ستونزو نه وه. یو شمیر نوماندانو او د دوی یو شمیر ملاتړ کونکو د پروسې د تخنیکي اړخونو او د عامه معلوماتو د نشتوالي په اړه اندیښنې څرګندې کړې. د ټاکنو د مدیریت د ارګانونو او کاندیدانو تر منځ لفظي او کتبي شخړې را منځ شوې. دا پروسه د دې موجب شوه چې د یو شمیر نوماندانو د پلویانو لخوا په اوو ولایتونو کې د تفتیش او رایو د بیا شمیرلو لړې له خنډ سره مخ کړې. دې کار همدارنګه د لومړنیو پایلو د اعلان په برخه کې ځنډ لا زیات کړ. په هرصورت

، دا پروسه د ډسمبر په ۱۵ پرون په پاته اوو ولایتونو کې بلاخره په تفتیش او بیا شمیرلو سره له سره پیل شوه. اوس موږ تمه لرو چې لومړنۍ پایلې به ژر اعلان شي. پدې پروسه کې ، د ملګرو ملتونو تخنیکي کارپوهانو او نړیوالو کمیشنرانو د کمیشنرانو او د سکرتریت په دواړو کچو کې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون سره پراخې مشورې تر سره کړې او له هغوي سره یې له نږدې کار وکړ. زه د دواړو، د ټاکنو د کمیسیون او د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون له خوا د هغوي د ښودل شوې مشرتابه څخه مننه او قدرداني کوم. ما د ټولو برخه والو تر منځ د قوي درک احساس وکړ چې د ټاکنیزې پروسې په اوږدو کې باید د افغان مالکیت ساتنه وشي ، او اړتیا لیدله کیږي چې دا د افغانستان په سیاسي ډګر کې د افغانانو تر رهبري او مالکیت لاندې ریښې وغځوي. زه په ټولو ښکېلو اړخونو غږ کوم چې د مناسبو قانوني او موسساتي کانالونو له لارې د ټولو شکایتونو د رسیدګې په شمول، انتخاباتي بنسټونو په دې وتوانوي چې په بشپړ ډول خپل مسؤلیتونه ترسره کړي. کله چې یوځل د قانون سره سم انتخاباتي شکایتونو ته رسیدګې وشي ، زه له نوماندانو او د هغوی د ملاتړ کونکو څخه غوښتنه کوم چې د ټاکنو پایلو ته غاړه کیږدي او هغه ومني. کله چې په اعتبار سره ټاکنې سرته ورسیږي ، نو دا به د هیواد په تاریخ کې د یوه نماینده سیاسي سیسټم د رامنځ ته کولو لپاره یو مهم پړاو وي.

آغلي ریيسې،

جګړه په پرله پسې توګه ملکي وګړو ته چې په افغانستان کې ژوند کوي مخوف او ډارونکي تلفات اړوي. له هغه راهیسې چې کله لس کاله وړاندې یوناما په سیستیماتیک ډول د ملکي تلفاتو په مستند کولو پیل وکړ، د ۲۰۱۹ کال دریمه ربع د زیات شمیر ملکي تلفاتو شاهده پاته شوې. د اکتوبر او نومبر په میاشتو کې ، موږ د ملکي تلفاتو په مجموعي شمیر کې یو څه کمښت ولید. خو دا په خپل ذات کې کافي نه ده. زه په ځانګړي ډول په ملکیانو د روانو عمدي بریدونو ، د غیر ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکو توکو او د هوايي بریدونو په نتیجه کې د زیاتو ملکي تلفاتو په اړه اندیښمن یم. د سولې په خبرو اترو کې د یوه قوي موقف د ترلاسه کولو په خاطر د تاوتریخوالي د پراخولو په هدف، چې د ډیرى ملکي تلفاتو لامل کیږي ، د منلو وړ ندی. د ټولو خواو لخوا د ملکي تلفاتو د راکمولو په هدف لا زیاتو ریښتینو هڅو ته اړتیا لیدله کیږي.

زه همدارنګه په افغانستان کې د مرستندویه کارکونکو پر وړاندې د زیاتیدونکو ګواښونو په اړه کومو چې په تیرو میاشتو کې د ملګرو ملتونو کورنۍ متاثره کړې، اندیښمن یم. د ژورې خواشینۍ ځاى دی چې زه د ملګرو ملتونو د یوه کارمند، انیل راج د مړینې یادونه کوم ، څوک چې په کابل کې د ملګرو ملتونو په موټر کې د سفر پرمهال ووژل شو. ښاغلی راج یو خورا وړ مسلکي او ښه خوښونکی همکار و. د هغه مړینه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کورنۍ لخوا څخه عمیقا احساس شوه. زه همدارنګه په ډیره ناراحتي سره د ډاکټر تیټسو نکامورا د مرګ یادونه هم کوم ، د چا وژنه چې په افغانستان د افغانانو او د بشرپالنې د ټولنې لپاره ژوره صدمه وه. په خواشیني سره باید ووایم چې دا زما د ورستیو معلوماتو د وړاندې کولو راهیسې د مرستندویه کارکونکو پر وړاندې د تاوتریخوالي څخه ډک یواځني بریدونه نه وو. د بشر دوستانه کارمندانو پر وړاندې، که چیرې هغوي افغانان او یا نړیوال کارکونکي وي، د بریدونو لپاره هیڅ ډول توجیه شتون نه لري.

زه په ورته ډول په افغانستان کې د بشري حقونو د مدافعینو او هغو کسانو پر وړاندې چې بیلابیل سیاسي نظرونه لري، د ګواښونو او بریدونو د زیاتوالي په اړه اندیښمن یم. که د یو څو تنو نومونه واخلو، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون یو غړی د روان کال په لومړیو کې د طالبانو له خوا ووژل شو ؛ او د بشري حقونو د دوو تنو مدافعینو سره اړیکې وشلیدلې او په خپل سر د ملي امنیت د ریاست له خوا هغه مهال توقیف شول چې کله یې په میړانه په لوګر ولایت کې پر ماشومانو د جنسي تیري تورونه څیړل. د مدني ټولنې د دا ډول استازو په ښه کول او په هغو برید کول په بشپړ ډول د منلو وړ

نه دي. موږ به د یو شمیر همکارانو سره نږدې کار کولو ته دوام ورکړو ترڅو د هغو کسانو لپاره د بشري حقونو محافظت تقویه کړو څوک چې د یوې لا عادلانه او مساوي ټولنې د را منځ ته کولو په برخه کې هڅې کوي. په دې برخه کې ، زه غواړم د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون له خوا د بیا اعتبار د وروستي "A" حالت د ترلاسه کولو هرکلی وکړم.

آغلې رییسې،

د ولسمشرۍ د ټاکنو پایلې چې هرڅه وي ، د سولې موضوع به د نوې ادارې لپاره د خورا اهمیت وړ وي. پداسې حال کې چې حتی موږ د ټاکنو د پایلو په تمه یو ، د سولې لپاره هڅې ندي دریدلي. د طالبانو او متحده ایالتونو تر منځ خبرې اترې بیرته پیل شوې. د افغانانو تر منځ د خبرو اترو د پیلیدو په موخه هڅې دوام لري. ولسمشر غني د آسیا زړه د استانبول د وزیرانو په کنفرانس کې د سولې په اړه خپل افکار بیان کړل. دا هڅې د ټولو له خوا ، په ځانګړې توګه د افغانانو لخوا د سولې لپاره قوي لیواتیا منعکسوي.

د سولې په پروسه کې د تېرو هڅو له لارې یو شمیر کلیدي موضوعګانې راڅرګندې شوې چې د مهم پرمختګ لپاره حل کولو ته اړتیا لري. په دغو موضوعګانو کې د تاوتریخوالي کمول، اوربند او دغه راز هغه د توافق وړ لارې چارې شاملې دي چې د بشري حقونو، عدالت او حکومتولۍ په برخه کې تر لاسه شوې لاسته راوړنې وساتي. دا هغه موضوعات دي چې د افغان وګړو د ژوند او ښیرازۍ لپاره مهم ګڼل کیږي. له همدې امله، د اړتیا له مخې د سولې پروسه باید د افغانانو په مالکیت پرمخ یوړل شي. دا خورا مهمه ده چې نوی حکومت داسې ټول شموله میکانیزمونه جوړ کړي د کومو له لارې چې د ښځو او ځوانانو په ګډون د افغان ټولنې د ټولو قشرونو نظریې او ګټې په عادلانه ډول منعکس شوې وي.

خو موږ ټول پر دې پوهېږو چې په افغانستان کې سوله د سیمې او تر هغې ور هاخوا د نورو هیوادونو لپاره پراخې پایلې او اغیزې لري. سوله هغه کلیدي او بنسټیزه موضوع ده چې د سیمې پر ثبات اغېز لري. سوله همدارنګه د اسلامي دولت-خراسان ولایت ډلې په ګډون له تروریستي ډلو سره د مبارزې د نړیوالو هڅو لپاره یوه خورا مهمه مسله ګڼل کیږي. سوله به په افغانستان کې د ګرندۍ ودې، د سیمې د پیاوړي نښلون لپاره فرصتونه رامنځ ته او د خلکو او سیمې د هیوادونو لپاره ګډې ګټې برابرې کړي. له همدې امله د سولې تګلاره د ملاتړ یوه پراخ بنسټ ته اړتیا لري. د سولې ټولې هغه هڅې چې د سیمه ییزو هیوادونو په ګډون د افغانانو او نورو بیلابیلو شریکانو له خوا ترسره شوي، باید له نږدې په داسې ډول همغږې شي، چې همکاري او همغږیتوب رامنځ ته کوي.

آغلې رییسې،

غواړم په افغان ټولنه کې په ټولو فعالیتونو کې د ښځو د ګډون پر اهمیت ټینګار وکړم. په دې برخه کې، زه په افغانستان کې د ښځو د دوستانو د ډلې د جوړولو په خاطر د افغانستان او انګلستان د هیوادونو څخه منښه او د هغوي هرکلی کوم همدارنګه د هغه پریکړه لیک یادونه کوم چې د افغانستان د پارلمان له خوا د نومبر پر ۲۵ تصویب شو، کوم چې د سولې په پروسه کې د ښځو د حقونو د ساتنې او بسیجونې غوښتنه کوي. دا په ځانګړې ډول د سولې په پروسه کې د ښځو د ګډون په بسیجونه او د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي دوامداره عمومیت ته په رسیدګۍ کې د افغان میرمنو د ملاتړ لپاره د ژمنو پیاوړې څرګندونې ګڼل کیږي.

په دې پروسه کې د راتلونکي کهول د غړونو شاملول خورا مهم ګڼل کیږي. په دې وخت کې، غواړم په ملګرو ملتونو کې د افغان ځوانانو د نوې ټاکل شوې استازې عایشې خرم څخه، ، چې زما ترڅنګ ناسته ده تود هرکلی وکړم. زه پر دې پوهیږم چې هغه

په افغانستان کې په جدي ډول د ځوانانو له بیلابیلو قشرونو سره بوخته وه، او لږ وروسته په دې غونډه کې د هغې د وینا د اوریدو په تمه یم.

آغلې رییسې،

افغانستان به د خپلو فوري بشري اړتیاوو او اوږدمهاله اقتصادي پراختیا د ملاتړ لپاره د بهرني تمویلوونکو په دوامداره ملاتړ تکیې ته اړتیا ولري. تمه لرو چې راتلونکی کال به د وزیرانو خورا مهمه سرمشریزه ولرو. دا به د نوې ادارې لپاره د افغانستان د پرمختیا په اړه د وزیرانو د کچې لومړی کنفرانس وي. دغه کنفرانس به دغه راز په احتمالي ډول د لیږد د لسیزې چې په ۲۰۲۴ کې پای ته رسیږي، د تعهد او ژمنې کولو وروستی کنفرانس وي. دلته غواړم د دې یادونه وکړم، د دې لپاره چې د پرمختیا او اصلاحاتو په برخه کې مهم پرمختګ وشي، افغانستان باید د معافیت په ګډون له اداري فساد سره د مبارزې او احتساب د اساسي موضوعاتو په اړه مثبت او د پام وړ ګامونه پورته کړي. د بشري مرستو په برخه کې، ملګري ملتونه چې له دولتي او نا دولتي ادارو سره کار کوي، تمه لري چې د ۲۰۱۹ کال تر پایه په افغانستان کې له ۴۰۱ ولسوالیو څخه په ۳۷۱ ولسوالیو کې ۷.۱ میلیونه وګړو ته رسیدګي وکړي، چې وچکالی ته د ستر غبرګون له امله له کلني هدف څخه اوړي. هیله لرو چې راتلونکی کال لږ تر لږه ۷.۱ میلیونه وګړو ته رسیدنه وکړو، او د دغې موخې د تر لاسه کولو لپاره ۷۳۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته د مرستې د لوړیدو هیله لرو. په دې برخه کې ستاسو د ملاتړ په تمه یوو او ستاسو څخه ستاسو د ملاتړ په اړه قدرداني کوو.

آغلې رییسې،

لکه څنګه چې افغانستان د یوه نوي حکومت په تمه دی ، دغه هیواد او نړیوال ملګري یې په ګډه یو فرصت لري تر څو مهمې ننګونې جوتې کړي او د هیواد د ښې راتلونکې د را منځ ته کولو لپاره سمو لامولونو ته وده ورکړي. کلیدي مسلې سوله ، پرمختګ، د نیستي کمول ، بشري حقونه او حسابورکونه دي. د دې لپاره چې هیواد په راتلونکو کلونو کې د دې مسلو د هوارولو په برخه کې بریالی شي ، نو سملاسې موخه د باوري ټاکنو ترسره کول دي چې پایلې یې د افغانانو ریښتیني اراده منعکسه کړي او ټولو شریکانو ته، په ځانګړې ډول کاندیدانو ته د منلو وړ وي. ملګري ملتونه به د ټولو اړوندو سره، د افغان او نړیوالو همکارانو سره کار کولو ته دوام ورکړي ترڅو په افغانستان کې سوله ، ټیکاو او سوکالي ترلاسه کړي.

ستاسو څخه ډیره مننه.

***

*یوناما ته د یوه سیاسي ماموریت په حیث د افغان دولت او د افغانستان د خلکو د ملاتړ په موخه ماموریت ورکړل شوی کوم چې د نورو مهمو خدمتونو تر څنګ " د ښه نیت هڅې برابروي " . د "ښه نیت هڅې" هغه ډیپلوماتیک اقدامونه دي چې ملګري ملتونه یې د خپلې خپلواکي ، بې طرفي او تمامیت په اړه په عامه او خصوصي محافلو کې اخلي څو د نړیوالو شخړو د راپورته کیدو ، تشدید کیدو یا پراخیدو مخه ونیسي. یوناما د سولې او پخلاینې د پروسې سره مرسته کوي ، بشري حقونه نظارت کوي او هغو ته وده ورکوي ، په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په شمول ،ښه حکومتولي ترویجوي او سیمه ییزه همکاري تشویقوي. ماموریت همدارنګه همغږې پرمختیا ته وده ورکوي چې ملاتړ یې د نړیوالي ټولنې له خوا کیږي.*